# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**14قوس_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستيال د فراه ولايت د والي سره وکتل----------------------------------------1

معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، به ولایت فراه رفت ----------------------------------------------------1

د ملګرو ملتونو استازي او د اروپايي تولني سفير د تورخم سرحدي آمريت ليدنه وکړه-------------------------------2

برای ۱۰ تن در ولایت میدان وردک، کمپیوتر توزیع شد ---------------------------------------------------------4

مقام ایرانی: افغان‌ها اکثریت زندانی‌های خارجی در ایران را تشکیل می‌دهند ----------------------------------------4

فرانسه: د بې سرحده ډاکټرانو سازمان کالې ښار کې کډوالو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي----------------------6

آلمان: بیش از ۱۲ هزار ورود غیرمجاز ثبت شده است ---------------------------------------------------------11


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د فراه ولایت د والي سره وکتل

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد د فراه ولایت له والي الحاج مولوي غوث الدین رهبر سره وکتل .

په دې کتنه کې له مسلکي مرستیال سره د حقوقي ملاتړ رییس الحاج غلام نبي الله داد خیل ستانکزی د فراه ولایت د مهاجرینو چارو سرپرست او د وزارت د تخنیکي ټیم غړي هم مل وو، چې د مهاجرینو د ستونزو د حل او په دغه ولایت کې د داخلي بېځایه شویو په اړه خبرې پکې وشوې .

په دې کتنه کې د فراه والي ښاغلي راشد ته د راستنېدونکو، بېځایه شویو د ستونزو د حل په برخه کې د خپلې همکارۍ ډاډ ورکړ.

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، به ولایت فراه رفت

ویب سایت وزارت



**مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، به ادامه سفر هایش به ولایات جنوبی و جنوب غربی کشور، اینبار به ولایت فراه رفت.**

**معین مسلکی وزارت از ریاست مهاجرین آن ولایت دیدن نموده با رییس و کارمندان آن اداره دیدار داشته و اهداف سفر خود و همراهان را با آنان بیان داشت.**

**وی در اجرای امور روزانه وخدمت به مهاجرین کارمندان آن اداره را به پابندی به وظایف؛ صداقت در کار، اخلاص و اجرای کار مطابق به اصول و قوانین امارت اسلامی هدایات لازم را به آنان سپرد.**

**رییس و کارمندان ریاست مهاجرین ولایت فراه، آقای راشد و هیات همراهش را به فراه خوش آمدید گفته از پروسه کاری در آن اداره معلومات را با معین مسلکی شریک ساختند و از همکاری شان تعهد سپردند.**

## د ملګرو ملتونو استازي او د اروپايي ټولنې سفير د تورخم سرحدي آمريت ليدنه وکړه

د وزارت ويب سايت


unicef

د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، د ملګرو ملتونو استازي او په کابل کې د اروپايي ټولنې سفير د لېندۍ پر دولسمه د دغه ولایت د تورخم سرحدي آمریت لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د نړیوالو موسسو استازي هم مل وو او د تورخم د سرحدي آمریت آمر بخت جمال ګوهر سره يې وليدل او د ده د کار ستاينه يې وکړه او زیاته یې کړه :

د اسلامي امارت په راتګ سره په تورخم کې د مهاجرینو لپاره داسې خدمتونه ترسره شوي، چې مخکې دلته وړاندې شوي نه وو.

ښاغلي ګوهر د مهاجرینو لپاره د دغه آمریت د خدمتونو او فعالیتونو کاري بهیر ته په اشارې سره د دغه آمریت د بېلابېلو برخو د ستونزو په حل کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

## برای ۱۰ تن در ولایت میدان وردک، کمپیوتر توزیع شد

ویب سایت وزارت




**برای ۱۰ تن از بیجاشده گان و برگشت کننده گان در ولایت میدان وردک، بتاریخ ۱۲ قوس کمپیوتر لب تاب توزیع شد.**

**افراد یاد شده قبلاً مدت ۶ ماه در بخش برنامه های کمپیوتر از طرف موسسه صلح سازان آموزش فرا گرفته بودند که پس از ختم دوره مذکور یک پایه کمپیوتر لب تاب را از جانب نهاد متذکره دریافت نمودند.**

## مقام ایرانی: افغان‌ها اکثریت زندانی‌های خارجی در ایران را تشکیل می‌دهند

خامه پرس



عسکر جلالیان معاون وزارت عدلیه ایران به تازگی گفت که بیش از ۸ هزار زندانی خارجی در کشور ایران موجود است که اکثریت آنان اهل افغانستان هستند.

این مقام ایرانی این سخنان را در صحبت به خبرگزاری ایرانی ایسنا مطرح کرده و افزوده که جرایم زندانیان افغانستانی مربوط به قاچاق مواد مخدر، قاچاق کالاهای ممنوعه، سرقت، قتل و ... است که عمده‌ترین جرم آنها مربوط به قاچاق مواد مخدر می‌شود.

وی تصیح کرده که قانون مجازات ایران در این خصوص بسیار سخت‌گیر است و با آن مقابله می‌کنند.

آقای جلالیان همچنان گفت که :« اخیرا به عنوان رییس کمیته انتقال محکومان وزارت دادگستری با مقامات افغانستانی ملاقاتی داشتم و ماحصل این ملاقات این شد که لیست زندانیان دارای شرایط افغانستان تهیه و به آنها تحویل داده شود تا پس از احراز هویت این زندانیان، اقدامات لازم برای انتقال آنها فراهم شود«.

حکومت سررپرست تا اکنون در این زمینه اظهار نظر نکرده است.

## فرانسه: د بې سرحده ډاکټرانو سازمان کالي ښار کې کډوالو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي

مهاجرنیوز




د ۲۰۲۳ د اپریل له میاشتې راهیسې د بې سرحده ډاکټرانو سازمان د فرانسې په کالي ښار کې کډوالو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي. دغه سازمان چې د شپږو کلونو لپاره یې په یاده سیمه کې خپل فعالیتونه درولي وو، په اونۍ کې یو ځل په خپل ګرځنده کلینیک کې د ناروغو کډوالو هرکلی کوي .

*برېتانیا ته د اوښتو هڅه، د کډوالو پنډغالي، د امنیتي تدابیرو ډېرېدل... کډوال نیوز د یوې میاشتې لپاره د فرانسې کالي ښار ته راغلی دی او تاسو ته د فرانسې له شمالي سواحلو څخه د روان وضعیت په اړه راپورونه چمتو کوي.*

د کالي روغتون ته څېرمه ژوست بولوار کې ځینې کډوال فوټبال کوي، ځینې نور ګرم چای څکي او خپل موبایلونه چارجوي. دوه تنه نور د پویسانس ۴ ګېم لوبوي او یو شمېر کسان هم موسیقۍ ته غوږ دي چې د لوډسپیکر له لارې خپرېږي .

الیز اوار چې د بې سرحده ډاکټرانو سازمان کې د نرسې په توګه دنده ترسره کوي د یاد سازمان له کامیون څخه وځي او پر راټول شویو کسانو غږ کوي: «لطفاً د موسیقۍ غږ لږ ټیټ کړئ. موږ د یو بل غږ نه شو اورېدلی.» الیز اوار هره پنجشنبه د بې سرحده ډاکټرانو سازمان له یو ډاکټر سره یو ځای په دغه کامیون کې چې ګرځنده کلینیک دی د ناروغو کډوالو هرکلی کوي. دغه دوه روغتیا پالان د ژباړونکو په مرسته د هغو کډوالو خبرو ته غوږ نیسي او د دوی ستونزو ته رسېدنه کوي چې په بېلابېلو ناروغیو اخته دي .



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**تقاعد شوي ډاکټر میشل ربېستاک چې اوس د بې سرحده ډاکټرانو له سازمان سره د رضاکار په توګه کار کوي، وايي: «د ریزش یا زکام پېښې زیاتې شوې دي... کډوال په ریزش اخته کېږي خو د هغوی د ژوند شرایط اجازه نه ورکوي چې سمه درملنه یې وشي «.**




**کالې کې د بې سرحده ډاکټرانو سازمان ګرځنده کلینیک، ۲۸ نومبر ۲۰۲۴. انځور: کډوال نیوز**

**»ځان ښه نه احساسوم«**

**اته لس کلن بشار او ۲۳ کلن حمزه دوه یمني کډوال دي چې له دوو اونیو راهیسې د کالې په دې کمپ کې ژوند کوي او د ځان د ګرمولو لپاره د خپلو کالیو پرته نور امکانات نه لري. بشار وايي: «مشکل مې جدي نه دی خو ځان ښه نه احساسوم «.هغه چې په انګلیسي ژبه ښه پوهېږي وايي، درې کاله یې جرمني کې تېر کړي خو اوس غواړي چې برېتانیا ته ولاړ شي. کله چې بشار جرمني ته ورسېد، عمر یې له ۱۸ کلونو څخه ټیټ و او ښوونځي کې شامل شو. خو له بالغ کېدو سره سم د هغه د پناه غوښتنه د چارواکو له خوا رد شوه. دغه کډوال له جرمني څخه یمن ته د اخراج له وېرې فرانسې ته راغی او اوس برېتانیا ته د اوښتو هڅه کوي .**

**میشل ربېستاک وايي چې دلته ګڼ شمېر کډوال په جلدي ناروغیو اخته دي. د نوموړي په خبره: «موږ تېر اوړی د سوځېدنې زیاتې پېښې درلودې، دا ځکه چې برېتانیا ته اوښتونکي کډوال د سمندر د اوبو او د تېلو د یو ځای کېدو له امله سوځېږي«...**



بشار او حمزه خپل وار ته انتظار باسي، ۲۸ نومبر ۲۰۲۴. انځور: کډوال نیوز

دغه روغتیايي ډله د کډوالو د ټپونو درملنه هم کوي. ډېری دغه ټپونه له موټرو څخه د غورځېدو، له اغزن تارونو څخه د تېرېدو، د اوږد پیاده مزل او یا ځینې وختونه د سپي چېچلو له امله رامنځته کېږي او بېړنۍ درملنې ته اړتیا لري. د بې سرحده ډاکټرانو کارکوونکي هغه کډوال چې جدي ټپونه لري د کالې روغتون د روغتیايي خدماتو څانګې یا پاس

ته انتقالوي .

»فکر کوم چې هغه غواړي [له موږ سره] وغږېږي«

د ګرځنده کلینیک مخې ته په یوه لرګینه لوحه کې یو شمېر پاڼې لګول شوې دي. په دغو معلوماتي پاڼو کې د اوبو د څښلو پر اهمیت ټینګار شوی دی. لويز اوار وايي چې ګڼ شمېر کډوال د اوبو د کمښت له امله په سردردۍ اخته کېږي. دا کالې کې د کډوالو یوه له خورا جدي ستونزو څخه ده .



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



د بې سرحده ډاکټرانو سازمان معلوماتي پاڼې. انځور: کډوال نیوز

مهاجر پلوه سازمانونه په منظم ډول کالې کې د کډوالو کمپونو ته څېرمه پلاستیکي بېلرونه له اوبو څخه ډکوي. الیز اوار وايي: «کډوال د اوبو د څښلو لپاره ګیلاس نه لري، ډېر لږ کسان بوتلونه لري «.

د دغو مهاجرو په ډله کې داسې کسان هم دي چې غواړي په یوه ارامه فضا کې له روغتیا پالانو سره د خپل ژوند، وېرو، اندېښنو او ستونزو په اړه خبرې وکړي.

میشل ربېستاک وايي» :څو شېبه مخکې یوه سړي موږ ته وویل چې هېڅ اشتها نه لري. ما ورته ویټامین ورکړ، خو په دې پوهېږم چې ویټامین د هغه ستونزې نه شي هوارولی. دغه سړي ته مې وویل چې بېرته راشي. زه فکر کوم چې هغه غواړي [له موږ سره] وغږېږي«.

روانې خدمتونه

د بې سرحده ډاکټرانو سازمان کالې کې د «ځنګل» په نوم د کډوالو د لوی کمپ له تخلیې وروسته د شپږو کلونو لپاره د فرانسې په شمالي سیمه کې خپل فعالیتونه درولي وو. خو په پنډغالو کې روان حالت یاد سازمان دې ته اړ کړ چې خپل فعالیتونه بیا پیل کړي .

دمګړی د بې سرحده ډاکټرانو سازمان د پاس پر رواني خدماتو سربېره کډوالو ته په فرانسوي، انګلیسي او عربي ژبو خدمتونه وړاندې کوي. د یاد سازمان روغتیایي ډلې هڅه کوي چې په ښار کې د ګزمو پر مهال هغه کډوال ومومي چې رواني حمایې ته اړتیا لري. سربېره پر دې، نور سازمانونه هم کولی شي چې اړمن کډوال د دغه سازمان روانپوه ته معرفي کړي .کالې کې د بې سرحده ډاکټرانو همغږی کوونکې فیروز لجیلي وایي که چېرې روانپوه وخت ولري د کډوالو ستونزو ته سمدلاسه رسېدنه کوي، خو که وخت ونه لري نو د ناروغو کسانو درملنه د یاد سازمان په دفتر او یا د نورو سازمانونو په دفاترو کې کېږي .

روحي مرسته هغه مرسته ده چې ګڼ شمېر کډوال ورته اړتیا لري. فیروز لجیلي وایي: «ځوک هغو خلکو ته پاملرنه نه کوي چې د کښتۍ له ډوبېدو پېښو څخه ژغورل شوي او د هغوی تر سترګو لاندې نور کسان مړه شوي دي». د نوموړې په خبره، دغه کډوال د سختو او غمجنو پېښو شاهدان دي او د استرس یا روحي مشکلاتو د مخنیوي لپاره بېړنۍ روحي درملنې ته اړتیا لري .



انګلیس کانال کې د ډوبېدو پېښو د قربانیانو یادغونډه. انځور: ارنو ستوکلر

د روان کال له پیل راهیسې په انګلیس کانال کې لږترلږه ۷۲ کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د بې سرحده ډاکټرانو سازمان وایي چې په تېرو څو میاشتو کې د هغو کډوالو په شمېر کې زیاتوالی راغلی دی چې له رواني ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. په ځانګړې توګه، د سپتمبر په ۳مه د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې وروسته چې ۱۲ کسان پکې مړه شول .

که څه هم د بې سرحده ډاکټرانو سازمان له دې پېښې وروسته د طبي – رواني بېړني واحد د پرانیستو غوښتنه وکړه، خو غوښتنه یې بې ځوابه پاتې شوه. دغه سیستم چې په ۱۹۹۵ کې رامنځته شوی دی له لویو پېښو څخه اغېزمن شویو کسانو ته اجازه ورکوي چې له روحي خدمتونو څخه برخمن شي .

**د بې سرحده ډاکترانو سازمان کالي کې د خپلو فعالیتونو له پیل سره د کم سنه کډوالو د هرکلي مرکز هم پرانیستی دی. دغه کډوال کولی شي چې ورځ کې د څو ساعتونو لپاره یاد مرکز ته مراجعه وکړي او د انزوا یا تجرید سره چې د کډوالی یوه له مهمو ناروغیو څخه ده مبارزه وکړي .**

***عملي معلومات***

***د بې سرحده ډاکترانو سازمان هره پنجشنبه د سهار له ۱۰ څخه د غرمې تر ۱۲ نیمو بجو پورې کالي روغتون ته څېرمه ژوست بولوار کې کډوالو ته روغتیایي خدمات وړاندې کوي .همدارنګه، دغه سازمان هره جمعه د ماسپښین له ۱ نیم څخه تر ۵ بجو پورې د سکور کاتولیک په مرکز کې چې پر مسکو سړک موقعیت لري کډوالو ته روغتیایي مرستې برابروي .***

## آلمان: بیش از ۱۲ هزار ورود غیرمجاز ثبت شده است

مهاجرنیوز




**به گفته پولیس فدرال آلمان از اواسط ماه سپتمبر که کنترول در همه مرزهای زمینی از سر گرفته شد ۱۲ هزار و ۷۸۲ ورود غیرمجاز به این کشور ثبت شده است .**

**پولیس فدرال روز دوشنبه در پوتسدام اعلام کرد، در مورد ۸ هزار و ۴۵۱ تن که از مرز عبور کرده بودند و یا قصد آن را داشتند، اقدامات لازم برای جلوگیری از ورود و یا پایان دادن به اقامت آن ها انجام شد .**

براین اساس از ورود ۷ هزار و ۷۱۷ تن از آن ها از مرز جلوگیری شد، ۴۱۱ تن اجازه ورود مجدد به آلمان را نداشتند و به این خاطر از ورود آن ها به کشور ممانعت شد .افزون براین ۳۰۰ قاچاقبر به صورت موقت بازداشت شدند .




به دستور وزارت داخله آلمان فدرال از تاریخ ۱۶ سپتمبر کنترول ها در همه مرزهای زمینی آلمان به صورت موقت از سر گرفته شد .از آن زمان مرزهای زمینی با فرانسه، بلجیم، هالند، لوگزامبورگ و دنمارک مجددا کنترول می شوند. در مرزهای دیگر زمینی آلمان با پولند، چک، اتریش و سوییس کنترول های مرزی موقت قبل از آن از سر گرفته شده بود.

اصولا کنترول های مرزی در حوزه شینگن مجاز نیست. اما به گفته نانسی فیزر، وزیر داخله آلمان فدرال، برای جلوگیری از مهاجرت غیر قانونی، حملات تروریست های اسلام گرا و جرائم فرامرزی راه دیگری وجود نداشته است.